مجله علمی سلام

Salam Academic Journal

*Journal Homepage:* https://www.resaearch.salam.edu.af

اووم کال، دوولسم گڼه، منی۱۴۰۱هـ.ش

# دترلاسه شوي حرام مال څخه دخلاصون لاره

# The Way to Get Rid of the Acquired Unlawful Property

DOI: 10.64104/v6.Issue12.n2.2022

پوهندوی دوکتور نجیب الله صالح [1]


## لنډیز

داچه مال داسلامی شریعت دسترو اهدافو او پنځه گونو مقاصدو څخه شمیرل شوی دترلاسه کولو لاری یی اسلامی شریعت په تفصیلی احکامو کښی بیان کړی .په نوموړی مقاله کښی دمال مفهوم واضح شوی اوبیا دحرام مال په اړه وضاحت او روښانتیا شوی هغه لاری په گوته شوی چه ډیری مسلما نان دغفلت او یاهم دناپوهی له امله له نوموړو لارو څخه حرام مال ترلاسه کوی لکه غلا،رشوت،سود-ربا-قمار،دمخدره موادو تجارت او ټولی هغه لاری چه اسلامی شریعت ناروا گرځولی.

اسلامی شریعت دحرام مال ساتنه اویا هم له دی لاری خپله سرمایه زیاتول ټول حرام او ناوړه عمل شمیرلی او هرمسلمان یی مکلف کړی ځان تری وساتی .

خوداچه نن سبا دحرام مال دلاسته راوړلو لاری دومر پراخه شوی چه یوگڼ شمیر مسلمانان له ددی مصیبت دارتکاب څخه غافل اوغیر محطاطه کړنه ترسره کوی خوچه کله یی عواقبو ته متوجه شی نو له دی مصیبت څخه دځان ژغورنی په هدف پدی لټه کښی شی چه څنگه وکولای شی چه له نوموړی حرام مال څخه ځان وژغوری .

پدی مقاله کښی  دفقهای کرامو دنظریاتو په رڼاکښی هغه لاری  روښانه شوی دکومو پواسطه چه یو مسلمان دحرام مال څخه خلاصون پیداکوی .

یومسلمان هیڅکله نشی کولای چه دحرام مال څخه دخپل ځان په گټه استفاده وکړی بلکه دتوبی دقبول شرط هم همدادی چه ترټولو دمخه دحدرام مال څخه ځان وژغوری .او په پای کی  ددی وضاحت شوی چه حرام مال کله هم دبرکت او زیادت لامل نشی کیدای بلکه دانسان دهلاکت سبب گرځی.


**کلیدي کلیمي: حرام مال، معاملاتو، احتکار، خلاصون لاره**

ISSN: 3078-9583 (Online)    ISSN: 3078-9575 (Print)

از ۱۰۱ تا ۱۱۲    تعداد صفحات: ۱۲    تاریخ نشر: ۱۴۰۱/۱۰/۰۶

---

[1]. استاد پوهنځی شرعیات، پوهنتون ننگرهار، salih.najib@gmail.com

**سریزه**

الحمد لله رب العالمين والعاقبة للمتقين والصلاة والسلام على سيدالانبياءِوالمرسلين محمدوعلى اله واصحابه اجمعين وبعد: يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَاْكُلُوْا اَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ اِلَّا اَنْ تَكُوْنَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِّنْكُمْ [2].

**ژباړه:** ای مؤمنانو! په خپلو منځونو کې یو دبل مالونه په ناروا توګه مه خورئ، راکړه ورکړه دې ددواړو خواوو په خوښی سره وي مال په اسلامي شریعت کې یو د پنځه سترو مقاصدو څخه شمېرل شوی په مال سره دانسان ژوند دوام او استمرار پیداکولای شي او دمال غوښتنه دانسان فطري غوښتنه ده، هرانسان ورته ضرورت لري او د لاسته راوړلو او ډیرولو لپاره یي هلې ځلې کوي.

اسلامي شریعت هم په خپلو اصولو کې دمال دتنظیم،لاسته راوړلو او مصرفولولارې په پوره تفصیل سره روښانه کړي دي. مسلمانان یې دحلال مال په لاسته راوړلو او حرام کسب او حرام مال څخه منعه کړي دي. په دې لنډه مقاله کې به لومړی دمال معنی، ډولونه او دحلال او حرام مال اسباب او بیا دحرام مال څخه دځان خلاصولو په لارو بحث وکړو.

**دموضوع اهمیت**: په اوسنی وخت کې د ډیری مسلمانانو دمال لاسته رواړلو شرعي لارو، اسبابو او طیب تجارت داحکامو سره رابطه ضعیفه شوې ده، مال لاسته راوړی خو په حقیقت کې په دې نه پوهیږي چې مال مې راته ګټه رسوي که ضرر؟ مګر چې کله وغواړي دالله تعالی دین ته په سمه توګه منقاد شي نو له ده سره نا مشروع حرام اموال شتون لري، خو دغه حرام مال څخه ده ته استفاده کول جواز نه لري، نو دخلاصون لارې پیژندل یي ځکه اړین دي چې له دې ستر مصیبت څخه ځان ژغورنه دمسلمان ترټولو ستر هدف دی.

**دموضوع دانتخاب لاملونه: دنوموړې موضوع داهمیت څخه څرګندیږي چې ولې په دې اړه باید لیکنه وشي؟**

۱ – دمسلمانانو پوهاوی ددې لیکنې مهم سبب دی چې په دې مادی محیط کې ډیری مسلمانان پرې مبتلاء کیږي، داسلامي مارکېټ او کاروبار احکام ورځ تربلې له صحنې لرې او په ځای یي فقط دمال ګټل هدف شي نو ځکه خو ډیر وګړي پرې مبتلاشي او دابه ورته یو تذکیر وي چې حرام مال دجهنم اور دی ځان باید ترې خلاص کړي.

۲ – دحرام مال ساتل او یا ترې استفاده کول دمسلمان سره نه ښایي بلکې ځان خلاصول ترې فرض دي خو چې دخلاصون لارې یي واضحه شي.

۳ – ډیر وخت له دې پوښتنو سره لوستي خلک مخ کیږي چې ماسره حرام مال شته څه پرې وکړم؟ چې باید ځواب ورکړل شي.

**دموضوع پوښتنې:**

حرام مال کوم مال ته ویل کیږي؟ په کومو لارو لاس ته راوړل شوی مال حرام دی؟ په حرام مال څه وکړو؟ چېرته مصرف شي؟ او دحرام مال له ګناه څخه ځان خلاصول څنګه کیدای شي؟

**دلیکنې تګلاره:** په دې لیکنه کې دشریعت داصلي مصادرو کتاب الله او نبوي سنتو څخه دمعتبرو علماوو،مجتهدینواو معاصرو علماوو دنظریاتو څخه استفاده کیږي، په مستند ډول به دهغوی اقوال رانقل کیږي، مراجع به یي ذکر کوو او دنصوصو ژباړه به یي په روانه پښتو ژبه کوو، دبحث په اخر کې به دټول بحث پایلې او لاس ته راوړنې روښانه کوم.

---

[2]- سورة النساء ۲۹ ایت

**دموضوع شالید:** په یاده موضوع کې په نورو ژبو کې مختصرې او تفصیلی لیکنې شوي دي خو په پښتو ژبه چې زموږ مخاطبین ترې استفاده وکولای شي کومه ځانګړې لیکنه زماپه اند نه ده ترسره شوې نودغه مقاله به ځکه له فائدې خالي نه وي چې موضوع مهمه، ضرورت يي زيات او په اوس وخت کې ډير وګړي پرې اخته دي.

**د مال معنی:**

مال عربي کلمه ده چې په لغت کې هرهغه شی چې ته يي مالک وې مال ګڼل کیږي. تاج العربیه مشهور عربی قاموس کې وايي: مال هرهغه شی دی چې ته يي مالک وی چه جمعه يي اموال ده.[3]

او عرب دمال اطلاق په څارویو هم کوي لکه حدیث شریف کې چې د(إضاعة المال) څخه منعه راغلې ده، نو ځینې يي څارویو سره معنی کوي او ضایع کیدل يي بيا عدم توجه، حفاظت او له حیوان سره ظلم دی او یا داچې هرمال وي اضاعة په نامشروع لارو کې مصرفول دي.([4])

البته مال ډیرې معنی ګانې لري چې لومړی معنی يي جامع او خورا روښانه ده، ځکه مال. طلا او سپین زر، البته حیوانات ،عقارات او عقودوته هم شامل دي.

**دمال اصطلاحي معنی:**

د اسلامي فقهې مشهورو علماوو يي بيلابيل تعريفونه کړي دي، دلته زه يواځې داحنافو فقهاوو په تعریف اکتفا کوم.

امام سرخسی وايي: المال اسم لما هو مخلوق لاقامة مصالحنا به ولکن با اعتبار صفة التمول ,والتمول صيانة الشیءوادخاره لوقت الحاجه.([5])

مال دهغې شي نوم دی چې الله تعالی دانسان دمصلحت لپاره پيداکړی دی، چې دتمول صفت پکې وي او وساتل شي او د ضرورت لپاره ذخیره کړای شي.

ابن عابدين وايي: مال هغه دی چې نفس ورته میلان کوي او دحاجت وخت ته وساتل شي.[6]

البته دواړه تعريفونه دمفهوم په لحاظ يوبل ته نږدې دي فقط الفاظ يي متغاير دي.

دمال په حصول کې ټول فقهاء په دې اتفاق لري چې مال بايد ديوې مباح اوفائدې او ګټې اخيستلو لار ولري نو هرشی چې ګټه ترې اخيستل کيږي مال ګڼل کيږي.

**دحرام مال تعريف:** حلال او حرام شرعي اوصاف دي چې پيژنده يي هم شرعي دلایلو ته ضرورت لري او په اقوالو،افعالو او اموالوکې عين او منافع هم ثابتيدلای شي.

نو په دې اساس مباح مال هغه دی چې شريعت دهغه څخه منعه نه وي کړې او نه يي په استعمال کې کوم ضرر ليدل کيږي نو داکه عين وي او یاهم منفعت.

ددې مقابل کې حرام مال هغه دی چې شريعت ورڅخه مسلمانان منعه کړي وي، نه يي استعمال جائز دی او نه يي لاس ته راوړل او نه يي دځان سره ساتل او جمعه کول.

---

[3]- محمّد بن محمّد بن عبد الرزّاق الحسيني، أبو الفيض، الملقّب بمرتضى، الزَّبيدي،(ب.ت)تاج العروس من جواهر القاموس للزبيدى،المحقق: مجموعة من المحققين، الناشر: دار الهداية ج٨ / ص ١٢١

[4]- أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف النووي،(1392)،المنهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج،الناشر: دار إحياء التراث العربي – بيروت.الطبعة: الثانية، ج١٢/ ص ١٠

[5]- محمد بن أحمد بن أبي سهل شمس الأئمة السرخسي (1414هـ-1993م)،المبسوط، الناشر: دار المعرفة – بيروت،الطبعة: بدون طبعة،ج١١ / ص ٧٩

[6]- محمد أمين بن عمر بن عبد العزيز ابن عابدين الدمشقي الحنفي ،(1412هـ - 1992م)رد المحتار على الدر المختار، الناشر: دار الفكر-بيروت،الطبعة: الثانية. ج۴/ ص ٥١٠.

البته فقهاوو دشرعي نصوصو په رڼا کې دحلال مال احکام په پوره تفصیل سره بیان کړي دي چې دهغې نه ور هاخوا مال بیا حرام ګڼل کیږي، خو امام غزالي په کې لږ وضاحت کړی دی او وایي:

حرام محض هغه مال دی چې په یقیني توګه دحرمت صفت ولري لکه په شرابو کې نشه والی، په بولو کې نجاست او یاد یو ممنوعه عمل په پایله کې په لاس راغلی وي لکه سود، غلا او داسې نور.[7]

**دحرام مال ډولونه:** حرام مال دوه سترو ګټه ګوریوته شاملیږي اول حرام لعینه او دویم حرام لغیره، یاهغه مال چې په خپل ذات کې حرام وي او یاهم دکوم صفت او سبب په اساس حرام ګرځیدلی وي.

**اول: حرام لذاته:** داهغه ډول اموال دي چې شریعت یي حرمت ثابت کړی خو دهمدغه مال ذات یي حرام ګرځولی دی چې داوصف کله هم ترې جلا کیدونکی نه دی، البته په استفاده کې یی یا چټلي ده او یاهم کوم بل واضح ضرر دی لکه دخنزیر غوښه، دانسان ګنده ګي او نور خبیث او چټل خیزونه.

د دا ډول اموالو حرمت دشریعت له ښکاره نصوصو څخه په ډاګیزه توګه ثابت دی.

الله تعالی په خپل کتاب کې فرمایي: حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ وَ الدَّمُ وَ لَحْمُ الْخِنْزِيْرِ وَ مَا اُهِلَّ لِغَيْرِ اللّٰهِ بِه وَ الْمُنْخَنِقَةُ وَ الْمَوْقُوْذَةُ وَالْمُتَرَدِّيَةُ وَ النَّطِيْحَةُ وَ مَا اَكَلَ السَّبُعُ اِلَّا مَا ذَكَّيْتُمْ١ وَ مَا ذُبِحَ عَلَى النُّصُبِ وَ اَنْ تَسْتَقْسِمُوْا بِالْاَزْلَامِ١ ذٰلِكُمْ فِسْقٌ.([8]

ژباړه: پرتاسې حرامه کړای شوه مرداره ، وینه، دخوګ غوښه، هغه څاروی چې له خدایه پرته دکوم بل چاپه نوم ذبحه کړای شوی وي[١٠]، هغه چې په ستوني خپه کېدو، په زخمي کیدو، یاله لوړې نه په راغورځېدو مړشوی وي، یاهغه چې کوم ځناور ځېرې کړی وي، پرته له هغه چې تاسې هغه ژوندی موندلی اوذبحه کړی وي او هغه څاروی چې د کوم چاپه دربار کې ذبحه کړای شوی وي، همدارنګه داهم ستاسې لپاره ناروا ده چې دفال دغشو په وسیله خپل اغبال وګورئ، داټول کارونه فسق دی.

همدا راز بل ځای کې فرمایي اِنَّمَا يُرِيْدُ الشَّيْطٰنُ اَنْ يُّوْقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةَ وَ الْبَغْضَآءَ فِى الْخَمْرِ وَ الْمَيْسِرِ وَ يَصُدَّكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ وَ عَنِ الصَّلٰوةِ فَهَلْ اَنْتُمْ مُّنْتَهُوْنَ )([9]

ژباړه: شیطان خو داغواړي چې دشرابو اوقمار په وسیله ستاسې په منځ کې عداوت او دښمني واچوي اوتاسې دخدای له یادولو او نمانځنې څخه منع کړي، نو ایاتاسې له دې چارو څخه لاس اخلئ؟

دلته دمحرماتو څه انواع ذکرشوي دی خوعلماء وایي دا محصور نه دي، بلکې هرهغه څه کې چې پورته دضرر او خباثت وصف پکی موجود ؤ په همدې پورې ملحق کیږي.

البته ددې اموالو په اړه نور تفصیل ته په دې بحث کې ضرورت نشته اودبحث اړوند موضوع دویم ډول اموال دي.

**دویم: حرام لغیره اموال:** داهغه اموال دي چې ذات په اساس نه بلکې دیو خارجي وصف له وجهې حرام ګرځیدلي چې داوصف یو عارضي او جلا کیدونکی وصف دی، دمال په ذات پورې تړاو نه لري بلکې داپه یوه نامشروع لار لاس ته راوړل شوی، نوځکه ډیری علماء داډول مال ته حرام بالسبب وایي.

هغه اسباب چې په واسطه یي حلال مال حرام ګرځي ډیر دی چې په لنډه توګه به یي روښانه کړم.

---

[7]- أبو حامد محمد بن محمد الغزالي الطوسي،المستصفی(ب.ت) الناشر: دار المعرفة – بيروت، ج۲/ ص۱۷۱

[8]- المائده : ۳ ایت.

[9]- المائده ۱۹ ایت

دحلال او حرام مال اسباب:

دلته دحراموالي سبب دمال په اصل او ذات پورې تړاو نه لري ځکه مال مذموم نه بلکې ممدوح دی ځکه په مال سره دانسان دنیاوي او اخروي مصالح تړلي دي، مال جنت ته دداخلیدو وسیله ده، مال دشریعت په سترو مقاصدو کې ځای لري او انساني ژوند ورپورې تړلی دی، الله تعالی فرمایي وَ لَا تُؤْتُوا السُّفَهَآءَ اَمْوَالَكُمُ الَّتِىْ جَعَلَ اللّٰهُ لَكُمْ قِيٰمًا وَّ ارْزُقُوْهُمْ فِيْهَا وَ اكْسُوْهُمْ وَ قُوْلُوْا لَهُمْ قَوْلًا مَّعْرُوْفًا.([10])

ژباړه: اوخپل هغه مالونه چې الله هغه ستاسې لپاره دژوند دسمبالښت وسیله گرځولې ده، ناپوهانو ته مه سپارئ البته دهغو دخوراک او اغوستن لپاره یې ورکړئ اوهغو ته سمه لارښوونه وکړئ

البته بدي یې په دې کې ده چې انسان په مال کې غلطه کړنه ترسره کړې ده او مال یې دخپل دغه ناوړه تصرف په اساس له پاکیزه او طیب وصف څخه دحرمت او چټلتیا په وصف موصوف کړی دی البته الله تعالی ده ته ډېرې لارې پرانستې دي چې مال دهمدغو لارو څخه ترلاسه کړي، چې په لاندې ډول یې په لنډه توگه یادوم.

۱ – دمباح اموالو لاس ته راوړنه: داهغه اموال دي چې ترده دمخه دچا په اختیار کې نه دي، دی یې دامام په اجازه په خپل ملکیت کې شاملولای شي لکه مړو ځمکو ژوندي کول، ښکار او نورمباحات.

۲ – دجهاد او زور له لارې دحربي کفارو اموال دغنیمت او فيئ له لارې ترلاسه کول.

۳ – دبیع او تجارت له لارې دعقد په نتیجه کې مال لاس ته راوړل.

۴ – له عوض پرته په رضاء او رغبت دمال له مالک څخه دمال لاس ته راوړل لکه هبه، وصیت، صدقه ...

۵ – دمیراث له لارې دمال مالک گرځیدل.

٦ – دفرض زکات له لارې اگرکه په ځینو صورتونو کې په زور سره هم وي مالک کیدل.[11]

داهغه مشروع لارې دي چې انسان یې استعمال کړي نو حلال مال لاس ته راوړلای شي خو ددې علاوه نور بیا هغه اسباب دي چې مال ته دحرمت وصف ورکوي.

**هغه اسباب چې حلال مال حرام گرځوي:**

هغه مال چې دشریعت دحکم خلاف او یاهم دمالک له اجازې پرته لاس ته راوړل شوی وي، په دې صورت کې دیومسلمان مال دهغه دعلم او رضاء نه پرته او دشریعت دحکم خلاف په خپل ملکیت کې راوستل دحرامو په دائره کې شاملیږي.

الله تعالی فرمایي: يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَاْكُلُوْٓا اَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ اِلَّآ اَنْ تَكُوْنَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِّنْكُمْ([12])

ژباړه: ای مؤمنانو! په خپلو منځونو کې یو دبل مالونه په ناروا توگه مه خورئ، راکړه ورکړه دې ددواړو خواوو په خوښۍ سره وي

چې خورا مشهورې لارې یې په لاندې ډول دي:

**۱ – غلا :** غلا یاسرقه چې فقهاء یې داسې تعریفوي (أخذ مال الغیر علی سبیل الخفیه نصابا محرزاً للتمول غیرمتسارع

---

[10]- النساء/۵ ایت

[11]- احیاء علوم الدین للغزالی ج۲/ ص ۱۰٦.

[12]- سورت النساء ۲۹ ایت

أليه الفساد من غير تاؤيل ولاشبهه.[13]

په پټه سره دبل چا دنصاب په اندازه مال دساتلو دمحفوظ ځای څخه اخیستل دي چې دمالیت په خاطر، چې مالیت یي ژر نه فاسیدیږي چه هیڅ قسم تاؤیل په کې دملکیت او یاهم شبه دملکیت نه وي.

او موصلی یې هم دې ته نېژدې تعریف کوي (أخذ العاقل البالغ نصاباً محرزاً او ماقیمته نصاباً ملکا للغیرلاشبهة له فیه علی وجه الخفیه.([14])

پورته دواړه تعریفونه دحنفي مذهب معتبرو کتابونو ذکر کړي دي.

دمال حفاظت او ساتنه داسلامي شریعت له خورا مهمو احکامو څخه شمېرل کیږي نوهر هغه عمل او کړنه چې په مال باندې دتجاوز په خاطرتر سره کیږي او دیو چا ملکیت له منځه وړي اسلامي شریعت منع کړی دی او د عامل لپاره یي جزا ټاکلې ده، نو ځکه اسلامي شریعت دمال دحفاظت په خاطر دسرقت جزاپه قرآن کریم کی بیان کړی ترڅو دمال احترام او ساتنه تضمین کړي(وَ السَّارِقُ وَ السَّارِقَةُ فَاقْطَعُوْا اَيْدِيَهُمَا جَزَآءًبِمَا كَسَبَا نَكَالًا مِّنَ اللّٰهِ، وَ اللّٰهُ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ .([15])

ژباړه: اوغل که ښځه وي که نارینه، ددواړو لاسونه پرېکړئ دادهغو دخپلې ګټې بدله ده اودالله له لوري دعبرت وړ سزا، دالله قدرت پرټولو غالب دی او هغه دپوهې او حکمت څښتن دی

نو ټاکلې جزا به ورکولای شی چې دټولنې دوګړو اموال محفوظ کړي او دهر راز تجاوز مخنیوی وکړي.

**۲ – رشوت:** رشوت هم په اصل کې عربي کلمه ده هغه څه ته ویل کیږي چې دخپل مصلحت او یا هم دحق دباطلولو او یا باطل دحق کولو لپاره ورکول کیږي. او دشریعت علماوو یي هم تعریف داسې کړی: هغه څه دي چې یوڅوک یي حاکم او یا دفیصلې مالک ته په دې خاطر ورکوي چې دده په خوښه فیصله وکړي، رشوت هم دفشار او ظلم له لارې مال ترلاسه کول دي نوځکه شریعت حرام ګرځولی دی او په حرمت یي قراني ایات دلالت کوي چې فرمایي وَ لَا تَاْكُلُوْا اَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ وَ تُدْلُوْا بِهَا اِلَى الْحُكَّامِ لِتَاْكُلُوْا فَرِيْقًا مِّنْ اَمْوَالِ النَّاسِ بِالْاِثْمِ وَ اَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ.([16])

ژباړه: او تاسې مه په خپلو مینځو کې یو د بل مال په ناروا توګه خورئ او مه هغه حاکمانو ته په دې غرض وړاندې کوئ چې تاسې ته په قصدي توګه او ظلم سره د نورو دشتمنۍ د خوړلو فرصت په لاس درشي

او کله ناکه هغه تحفه هم درشوت حکم اخلي چې فیصله کوونکي شخص ته په داسې وخت کې ورکول کیږي چې دده کار ورپورې تړلی او غواړي په دې تحفې سره هغه دده پلوي وکړي، په ځانګړي ډول حکومتي چارواکي او دصلاحیتونو واکمنان درشوت اخیستلو له لارې مال لاس ته راوړل باطله او حرامه لاره ده او مال یي حرام دی.

**۳- غصب:** غصب دبل په مال باندې استیلا او غلبې ته ویل کیږي چې بی غیر له حقه په ښکاره ډول دزور له لارې دبل

---

[13]- محمد بن محمد بن محمود، أكمل الدين أبو عبد الله ابن الشيخ شمس الدين ابن الشيخ جمال الدين الرومي البابرتي(ب.ت)العناية شرح الهداية،الناشر: دار الفكر.ج۷/ ص ۳۱۴

[14]- عبد الله بن محمود بن مودود الموصلي البلدحي، مجد الدين أبو الفضل الحنفي (1356 هـ - 1937 م) المختارللفتوى مطبوع مع الاختيار،الشيخ محمود أبو دقيقة (من علماء الحنفية ومدرس بكلية أصول الدين سابقا)،الناشر: مطبعة الحلبي - القاهرة .ج۴/ ص ۱۰۹

[15]- المائده سورت: ۳۸ ایت

[16]- البقره سورت: ۱۸۸ایت

مال ترخپل تسلط لاندې راوړي.[17]

دغلا او غصب ترمنځ توپير دادی چې غلا په پټه اوخفيه ډول ترسره کيږي اوغصب په ښکاره او جهر سره، همدارازپه غصب باندې اصلي مالک خبروي مگرپه غلا کې بيا داسې نه وي.

غصب هم حرام عمل دی کوم مال چې ترې ترلاسه کيږي هم حرام دی او په باطله سره دمسلمان مال اخيستل دي او دشريعت په احکامو تيری دی، غاصب ته په هيڅ صورت کې له مغصوبې څخه استفاده کول جواز نه لري.

**۴ – احتکار:** يا دضرورت په وخت کې خوراکي توکې ذخيره کول او دقيمتۍ وخت ته يې ساتل ،کاساني وايی :احتکارله بازار څخه خوراکي توکي رانيول او ذخيره کول چې له پلورلو څخه يي انکار کوي.دهدايي شرحه عنايه کې فرمايي (حبس الاقوات تربصاللغلاء)دانسانانو دقوت حبسول ددې لپاره چې قيمت يي پورته شي.

احتکار دجمهورو فقهاوو په نزد حرام او احناف ورته مکروه وايي. البته دتحريم حکمت يي همدادی چې عامو مسلمانانو ته دژوند دضروري غذايي توکو پخ کمښت ضرر رسول دي.

دحرمت دليل يي: دنبي کريم صلی الله عليه وسلم داحديث دی چې فرمايي(الجالب مرزوق والمحتکر ملعون)[18] دغذايي توکو ښارته راوړونکي ته الله تعالی رزق ورکوي او احتکارکوونکی يي ملعون دی.

همداراز فرمايي( لايحتکرالا خاطی)[19] احتکار نه کوي مگر خطاکار انسان.

احتکار په مسلمانانو دسختۍ راوستل او ناروا سره مال لاسته راوړل دي، هرڅوک چې داحتکار له لارې مال لاس ته راوړي مال يي حرام او په خپله دلعنت مستحق گرځي. او داهغه گټه ده چې دشريعت داحکامو سره په تضاد کې ده.

**۵ – سود:** دسود حرمت دقرآني نصوصو او نبوي لارښوونو په اساس په قطعي حرمت سره ثابت او له دې لارې مال ترلاسه کول حرام او دکبيره گناهونو په حساب کې شميرل کيږي.

**٦- په معاملاتو کې جعل او غش:** په اسلامي شريعت کې معاملات يا راکړه ورکړه روښانه ډاگيزه او دطرفينو په علم او رضاء سره ترسره شي، که هرراز فريب کاري جعل او غش په کې رامنځ ته شول نو فايده يي حرامه او لاس ته راوړی مال يي حرام بلل کيږي، لکه په تجارت کې ښه اوخرابه جنس گډول، دخپل مال عيب پټول، ياداچې مال نه اخلي خو دپلورونکي سره په موافقه ددوکې په خاطر ديو مال قيمت اوچتول ترڅو نور خلک تشويق کړي او داسې نور صورتونه داپه تجارتي معاملاتو کې دوکه ده گټه يي حرامه ده.

**۷ – دحرامو عقدونو څخه مال لاس ته راوړل**: هغه تجارتي داخستلو او پلورلو عقدونه چې دطرفينو په رضاء سره ترسره شوی وي خو شريعت ناروا گڼلی وي که گټه ترې ترلاسه شوه حرامه ده او عاقد يي دکبيره گناه مرتکب شوی دی لکه سودي عقدونه، قمارکول، فاسدي بيعې او دغرر عقدونه، له دې ټولو لارو مال گټل او لاسته رواړل حرام او کله هم دا په پاک مال

---

[17]- علاء الدين، أبو بكر بن مسعود بن أحمد الكاساني الحنفي،(1406هـ - 1986م)بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع،الناشر: دار الكتب العلمية،الطبعة: الثانية.ج۷/ ص ۱۴۳.
أبو محمد موفق الدين عبد الله بن أحمد بن محمد بن قدامة الجماعيلي المقدسي ثم الدمشقي الحنبلي، الشهير بابن قدامة المقدسي،(1388هـ - 1968م) المغني لابن قدامة،الناشر: مكتبة القاهرة.ج۵/ص ۳۷۴.

[18]- أبو محمد عبد الله بن عبد الرحمن بن الفضل بن بَهرام بن عبد الصمد الدارمي، التميمي السمرقندي (1412 هـ - 2000 م)،تحقيق: حسين سليم أسد الداراني،الناشر: دار المغني للنشر والتوزيع، المملكة العربية السعودية،الطبعة: الأولى.ج۲/ص ٦٨٩

[19]- صحيح مسلم بشرح النووی ج۱۱/ ص ۴۴

کې نه شي داخيلداى. چې په دې جمله کې دحرامو توکو تجارت لکه دنشه يي موادو، دسپی قيمت، دکاهن او جادوگر مزدوري، دبدکارۍ زنا مال ټول هغه اسباب دي چې شارع منعه کړي او فايده يي حرامه گرځولې ده.

له پورته اموالو څخه استفاده: ټول فقهاء په دې اتفاق لري چې مسلمان ته له غير مشروع لارو دمال لاسته راوړل حرام دي.

داچې له حرام مال څخه استفاده کول په هيڅ صورت جائز نه دي، مگر داچې له يوچا سره حرام مال وي او په خپله فقير وي ضرورت ورته ولري نو استفاده دې ترې وکړي خوچې کله غني شي بيابه په هماغه اندازه مال صدقه کوي. موصلی وايي(الملک الخبيث سبيله التصدق به).(20)

هغه مالونه چې صدقه کول يي شرعا لازم دي په دې اساس چې اصلي مالک يي معلوم نه دی لکه غصبي اموال يا امانتونه چې مالکان يي معلوم نه دي، له چاسره چې دي دشرعي نصوصوپه اساس يي هغوی ته اخيستل جائز نه دي.اوقاضی وايي چې که فقير وي ودې خوري. او حارث المحاسبی بيا وايي که چېرې دکوم مسلمان سره دحرام مال نه يوڅه وه نو نه شي کولای په خپل ځان او ياکورنۍ يي مصرف کړي، که داکار يي وکړ نوهماغه اندازه مال دده په ذمه لازم شو چې کله يي هم توان پيداکړ په نورو به يي مصرفوي.[21]

نو په همدې اساس مسلمان بايد له خپل ځان سره حرام مال ونه ساتي او نه هم هغه دخپلو اغراضو لپاره مصرف کړي بلکې شرعا مکلف دی چې په شرعي لارو به يي مصرفوي. او همداراز په حرام مال حج کول جمهور فقهاء وايي چې دحج ثواب يي نشته خو که فرضي حج يي په حرام مال ادا کړ ذمه يي ساقطه شوه سره دگناه.[22]

ځينې فقهاء وايي چې فرضي حج يي هم نه صحيح کيږي او استدلال کوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: څوک چې په شرعي مال حج کوي او ووايي: لبيک اللهم لبيک په طاعت ولاړيم تاته ای ربه؛ الله تعالی ورته ځواب کې وايي: لا لبيک ولا سعديک وحجک مردود عليک، ستا طاعت نشته بلکې حج دې مردود دی، په همدې ډول اکثره فقهاء په حرام مال، دسود او قمار په مال دمساجدو جوړول هم جائز نه گڼي.

**دحرام مال مصارف:**

که چېرې کوم مسلمان حرام مال لاسته راوړی وي او اوس غواړي چې توبه وباسي نو دتوبې دقبليدو شرط دادی چې له حرامو به ځان خلاصوي. نو دحرام کسب او يا مال ترلاسه کولو دوه صورتونه دي.

**اول صورت:** که چيرې دحرام مال اصلی مالک معلوم وي نو داچې ده په هره لاره ترلاسه کړی وي بايد خپل اصلي مالک ته يي بيرته وسپاري، که مالک يي حاضر نه وي يا په سفر کې وي او که وفات وي نو ورثه وو ته به يي وسپاري، که مال يي گټه کړې وي دگټې سره به يي ورته وسپاري په دې اړه دټولو علماوو اتفاق دی.[23]

لکه دغلا، غصب، انکاري قرض او نور خو که چېرې يي بيا اصلي مالک مجهول ؤ اوممکنه نه وي معلوم يي کړي نو غوره خبره داده چې دمسلمانانو په عمومي مصالحو کې مصرف شي او يا هم دمسلمانانو بيت المال ته وسپارل شي.[24]

---

20- الاختيار ج۳/ ص٦١، احياء علوم الدين للغزالی ج۲/ص ۱۴۵.

21- ا حياءعلوم الدين للغزالی ج۲/ ص ٢٠٦.

22- أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف النووي (ب.ت) المجموع شرح المهذب، الناشر: دار الفكر بيروت. ج۷ /ص ۵۱. ابن عابدين حاشيه ردالمحتار ج۳/ ص ۴۵۳.

23- أبو الحسن نور الدين علي بن أبي بكر بن سليمان الهيثمي(1414 هـ، 1994 م ) مجمع الزوائد ومنبع الفوائد، المحقق: حسام الدين القدسي،الناشر: مكتبة القدسي، القاهرة،ج۳/ص ۳۱۰.شيخ البانی ورته ضعيف وايي.

الله تعالی فرمايي: يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَاْكُلُوْا اَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ اِلَّا اَنْ تَكُوْنَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِّنْكُمْ).[25]

ژباړه: ای مؤمنانو! په خپلو منځونو کې یو دبل مالونه په ناروا توګه مه خورئ، راکړه ورکړه دې ددواړو خواوو په خوښې سره وي چې دا ډول مال دباطل او حرام په جمله کې شامل دی([26]).

همداراز رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي(كُلُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ حَرَامٌ، دَمُهُ، وَمَالُهُ، وَعِرْضُهُ»([27])

که دا حرام مال داصلي مالک په خوښه او رضاء سره ده ته لاس ته راغلی وي لکه دزنا بدل، قمار، دساحر اجوره. نو په دې اړه هم ټول فقهاء اتفاق لري چې حرام مال په دې اسبابو سره لاس ته راوړل دده ملکیت نه ګرځي بلکې اخیستل یې ورته حرام دي.

جمهور فقهاء احناف، مالکیان، او حنابله په یوقول کې وايي چې دا مال بیرته مالک ته باید ورنکړای شي خو ددویم طرف ملکیت هم نه دي.([28])

دائکه چې هغه خپل مال په حرام عمل کې مصرف کړی دی، دهیڅ ډول کومک او مرستې مستحق نه دی، نوموړی مال باید بیت المال ته وسپارل شي. او یاهم داوقافو په مصارفو کې استعمال شي چې هدف به یې تقرب الی الله نه بلکې له حرام مال څخه ځان ژغورنه وي[29].

**دویم صورت:** که چېرته حرام مال لاسته راغلی ؤ خو داصلي مالک دژوند او مرګ او ځای په اړه یې معلومات نه ؤ، یاداچې د ډیرو خلکو مشترک مال ؤ لکه له غنیمت څخه غلا کول، په دې اړه دعلماوو دوه نظره شتون لري، ځینې علماء لکه فضیل بن عیاض او امام غزالي ته منسوب قول وايي چې دا ډول مال نه خو باید مسکینانو ته ورکړل شي او نه هم بیت المال ته. بلکې داخو یا وسوځول شی، یا په بحر کې واچول شي او یا لرې په غرونو کې ضایع شي.(۷).

خو راجح قول دجمهورو مذاهبو، احناف، مالکیان، شوافع، حنابله او ابن حزم وايي چې دکوم حرام مال مالک مجهول ؤ نو ښه مستحقین یې فقراء، مساکین او حاجتمندان دي او یا داچې دمسلمانانو عمومي ضرویاتو کې مصرف شي. [30]

او شرعي قاعده داده چې هرهغه حرام مال چې مالک یې مجهول وي نو د ذوالید په لاس کې به نه پاتې کیږي بلکې په دې ډول باید ځان ورڅخه خلاص کړی چې خپل مستحق ته یې وسپاري.

که په چا دین او یایې دنورو مالي حقوق خوړلي وي اوس یې مالکان معلوم نه وي او له لټون وروسته یې هم پیدا نه کړل نو دی به خپل مال نه په هماغه اندازه صدقه کوي، اګر که دده ټول مال هم پکې لاړشي. زموږ داصحابو، احنافو همدا مذهب دی او هیڅ اختلاف هم په کې نشته.([31])

---

[24]- أبو عبد الله محمد بن أحمد بن أبي بكر بن فرح الأنصاري الخزرجي شمس الدين القرطبي،(1384هـ - 1964 م)تفسير القرطبي،تحقيق: أحمد البردوني وإبراهيم أطفيش، الناشر: دار الكتب المصرية – القاهرة، ج۳/ص ۳٦٦. احياءعلوم الدين للغزالی ج۲/ص ۲۰۴.

[25]- النساء سورت: ۲۹ ايت.

[26]- الشيخ نظام وجماعة من علماء الهند ،(1411هـ - 1991م)الفتاوى الهندية، العالمگيرية. الناشر دار الفكر.ج۲/ص ۲۳٦.

[27]- صحيح مسلم ج۴/ ص۱۹۸٦

[28]- منصور بن يونس بن صلاح الدين ابن حسن بن إدريس البهوتى الحنبلى ،(ب ت)كشاف القناع عن متن الإقناع،الناشر: دار الكتب العلمية.ج٦/ ص ۳۱۷فتاوی هنديه ج۳/ص ۱۲۳٦.

[29]- پورته مرجع

[30]- پورته مرجع

[31]- زين الدين عبد الرحمن بن أحمد بن رجب بن الحسن، السَلامي، البغدادي، ثم الدمشقي، الحنبلي،(ب.ت) القواعد لابن رجب، الناشر: دار الكتب العلمية. ج۳/ ص ۲۲۵ ، ابن عابدين ردالمحتار، ج٦/ ص ۳۴۳.

دمالکیانو علماوو نه ابن رشد وایی: دچا په تصرف کې چې حرام مال وي په ده واجب دي چې الله تعالی ته توبه وباسي استغفار وواییِ او حرام مال خپلو خاوندانو ته ورسوي او که مالکان یې معلوم نه وه نو صدقه دې کړي، که دادغلا او یا بل خیانت مال ؤ په هماغه اندازه به صدقه کړي او که له مخکې یې پلورلی ؤ نوقیمت به یې له یوڅه زیادت سره صدقه کړي اوکه دسود مال ؤ نو هم به له هغې یوڅه زیات صدقه کړي.

له ابن مسعود رضی الله عنه څخه روایت شوی دی چې هغه یوه وینځه وه را نیولی وه ته کورداخل شو چه قیمت یی راوړی خوچه بیرته له کوره راووت مالک یې ورڅخه ورک شو له کوښښ وروسته یې هم پیدا نکړ، نو دهغې ثمن یې صدقه کړل او ویې فرمایل: (اللهم هذا عنه ان رضی والا فالأجرلی )همدغه موضوع شیخ الإسلام رحمه الله هم پخپله فتاوه کی ذکر کړیده وایی : " کله چه دکوم مال مالک ورک او بې درکه شي نو دمسلمانانو په عام المنفعت چاروکی دی مصرف شی چه دادجمهورو علماو نظر هم دی[32].

ای الله تعالی داله هغه نه قبوله کړې که یې خوښ وي او که نه زما لپاره به ثواب شي.

په معاصره نړۍ کې دسعودي دارالافتاء نه پوښتنه وشوه چې څوک په موسیقي، رقص، قمار او نورو غیرشرعي لارو مال لاس ته راوړي او بیا وغواړي توبه وکړي، نو ایا دتوبې دقبول لپاره شرط ده چې دامال به صدقه کوي؟ نو دهغوی ځواب داسې ؤ: که داشخص غیر مسلم وي نو دهاغه ګټل شوي مال صدقه یې لازمه نه ده، خو که چیرته دی دمال ګټلو وخت کې مسلمان وي خو فسق کوي او دفسق له لارې یې مال ګټلې وي، نو دتوبې شرط یې په اتفاقي توګه همدادی چې مال به خیریه لارو کې صدقه کړي او ځان به ترې خلاص او په خپله غاړه کې به یې نه پرېږدي.[33]

**دبانکي سود څخه لاس ته راغلې ګټه:**

له دې لارې چې کوم مال او فائده لاس ته راغلي وي دجمهورو علماوو په اتفاق سره دی ورڅخه استفاده نه شي کولای او نه یې په خپل خیار کې ساتلی شي او دنورو حرامو اموالوڅخه دځان خلاصون په څېر به یې په عامو صدقاتو کې مصرف او ځان ترې خلاص کړي.

**له حرام مال څخه ترلاسه شوې ګټه:**

که چیرته یومسلمان دحرامې لارې څخه لاس ته راغلي مال کې تجارت وکړي او ګټه یې لاس ته راوړه چې اوس دغه حرامه سرمایه او دهغې ګټه له ده سره جمعه شوې ده، نو که څوک توبه وباسي ایا فقط سرمایه به خپل مالک ته ردوي که مالک معلوم ؤ او که مالک یې معلوم نه ؤ صدقه به یې کړي اوکه ګټه او فائده هم دهمدې حکم تابع ده؟

په دې اړه امام ابو حنیفه، امام محمد، امام شافعي، اوامام احمد په یوروایت او ابن حزم او شوکاني وایي: هغه ګټه چې له دې ډول مال څخه ترلاسه شوې داصل مال، سرمایي تابع ده، که مالک یی معلوم ؤ دواړه به ورته وسپاري او که مجهول ؤ دهماغه مالک له اړخه به دواړه صدقه کړي.([34])

---

[32]- السنن الکبری للبیهقی ٦/١٨٨،دلایل النبوه ٣١٠/٦ دارالکتب العلمیه بیروت ومجموع الفتاوی لابن تیمیه ٣٣٢/٢٩ امالاثر فإن ابن مسعود ـرضي الله عنه ـإشتري جارية فلم يظفر بمالكها لينقده الثمن فطلبه كثيرا فلم يجده فتصدق بالثمن وقال : اللهم هذا عنه إن رضي والافالإجر لي مجموع الفتاوي نفس المرجع.

[33]- اللجنة الدایمه للبحوث العلمیه والافتاء فتوی رقم ٧٦٣١ تاریخ ١۴/١٠/١۴٠۴ هـ. السنن الکبری للبهیقی ٦/١٨٨,دلائل النبوة ،الناشر: دار الكتب العلمية – بيروت،ج٦ /ص ٣١٠. السنن الکبری للبهیقی ٦/١٨٨.

[34]- السنن الکبری للبهیقی ٦/١٨٨. المغني والشرح الكبير لابن قدامة 374/5

دابن القيم قول هم په همدې مفهوم دی چې داربحه ده ته جائز نه ده، ځکه دغصب شوي مال فائده يا دامانت څخه دمالک له اجازې پرته استفاده کول. نو داصل سرمايي سره به يوځای دمالک له طرفه صدقه کيږي.

دعلماوو نور اقوال هم شته چې پورته قول راجح او داغلب فقهاوو نظر دی، په همدې بسنه کوم.

**پايله:**

۱ - اسلامي شريعت دحلال او يا حرام مال ترلاسه کول له لومړي سره ديو نظام په رڼا کې واضح کړي چې له هغې چوکاټ څخه يي تجاوز روا نه دی.

۲ – مسلمان ته روا نه دي چې دمال کسب دخپل خواهش تابع کړي.

۳ – له حرام مال څخه ځان ژغورنه دتوبې لپاره شرط دی او هيچا ته دبل انسان دمال حيارت او خوراک په نا مشروع طريق جائز نه دی.

۴ – ګناه دانسان څخه کيدای شي خو دپاکوالي لاره يي داده چې له چټل مال څخه ځان خلاص کړي.

۵ – دهر راز حرام او اشتباهي مال څخه دخلاصون لارې اسلامي فقهاوو روښانه کړي دي او هر مسلمان يي بايد مراعت کړي.

**مراجع**


قرآن کريم

1. ابن رجب الحنبلي: زين الدين عبد الرحمن بن أحمد بن رجب بن الحسن، السَلامي، البغدادي، ثم الدمشقي،(ب.ت) القواعد لابن رجب، الناشر: دار الكتب العلمية.
2. ابن عابدين: محمد أمين بن عمر بن عبد العزيز الدمشقي الحنفي ،(1412هـ - 1992م)رد المحتار على الدر المختار، الناشر: دار الفكر-بيروت،الطبعة: الثانية.
3. ابن قدامه المقدسي: أبو محمد موفق الدين عبد الله بن أحمد بن محمد بن قدامة الجماعيلي المقدسي ثم الدمشقي الحنبلي،(1388هـ - 1968م) المغني لابن قدامة،الناشر: مكتبة القاهرة.
4. البابرتي: محمد بن محمد بن محمود، أكمل الدين أبو عبد الله ابن الشيخ شمس الدين ابن الشيخ جمال الدين الرومي (ب.ت)العناية شرح الهداية،الناشر: دار الفكر.
5. البهوتى: منصور بن يونس بن صلاح الدين ابن حسن بن إدريس الحنبلى ،(ب ت)كشاف القناع عن متن الإقناع،الناشر: دار الكتب العلمية.
6. البيهقي: أحمد بن الحسين بن علي بن موسى الخُسْرَوْجِردي الخراساني، أبو بكر (1405 هـ،)دلائل النبوة ،الناشر: دار الكتب العلمية – بيروت.
7. الجنة الدايمه للبحوث العلميه والافتاء فتوى رقم ۷۶۳۱ تاريخ ۱۴/۱۰/۱۴۰۴ هـ.
8. الدارمي: أبو محمد عبد الله بن عبد الرحمن بن الفضل بن بَهرام بن عبد الصمد ، التميمي السمرقندي (1412 هـ - 2000 م)،سنن الدرامي، تحقيق: حسين سليم أسد الداراني،الناشر: دار المغني للنشر والتوزيع، المملكة العربية السعودية،الطبعة: الأولى.

9. الزَّبيدي: محمّد بن محمّد بن عبد الرزّاق الحسيني، أبو الفيض، الملقّب بمرتضى،(ب.ت)تاج العروس من جواهر القاموس للزبيدى،المحقق: مجموعة من المحققين، الناشر: دار الهداية .

10. السرخسي: محمد بن أحمد بن أبي سهل شمس الأئمة (1414هـ-1993م)،المبسوط، الناشر: دار المعرفة – بيروت،الطبعة: بدون طبعة.

11. الشيخ نظام وجماعة من علماء الهند ،(1411هـ - 1991م)الفتاوى الهندية، العالمگيرية. الناشر دار الفكر.

12. الغزالي: أبو حامد محمد بن محمد الطوسي،(ب.ت) الناشر: دار المعرفة – بيروت.

13. القرطبي: أبو عبد الله محمد بن أحمد بن أبي بكر بن فرح الأنصاري الخزرجي شمس الدين ،(1384هـ - 1964 م)تفسير القرطبي،تحقيق: أحمد البردوني وإبراهيم أطفيش، الناشر: دار الكتب المصرية – القاهرة.

14. الكاساني: علاء الدين، أبو بكر بن مسعود بن أحمد الحنفي،(1406هـ - 1986م)بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع،الناشر: دار الكتب العلمية،الطبعة: الثانية.

15. الموصلي: عبد الله بن محمود بن مودود البلدحي، مجد الدين أبو الفضل الحنفي (1356هـ-1937م)الاختيار لتعليل المختار،الشيخ محمود أبو دقيقة (من علماء الحنفية ومدرس بكلية أصول الدين سابقا)،الناشر: مطبعة الحلبي - القاهرة .

16. النووي: أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف (ب.ت) المجموع شرح المهذب، الناشر: دار الفكر بيروت.

17. النووي: أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف ،(1392)،المنهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج،الناشر: دار إحياء التراث العربي – بيروت.الطبعة.

18. النيسابوري: مسلم بن الحجاج أبو الحسن القشيري (ب.ت)، صحيح مسلم، المحقق: محمد فؤاد عبد الباقي، الناشر: دار إحياء التراث العربي – بيروت.

19. الهيثمي: أبو الحسن نور الدين علي بن أبي بكر بن سليمان (1414 هـ/1994م) مجمع الزوائد ومنبع الفوائد، المحقق: حسام الدين القدسي،الناشر: مكتبة القدسي، القاهرة.